# د ملي تاريخ فلسفه او پښتونولي

د ملي تاريخ د فلسفې او پښتونولي په هکله دا لاندې مرکه د افغان سياست پوه ښاغلي حداد صاحب سره، د ميلادي دوه زره دوهم کال د اګسټ د مياشتې پر يوويشتمه نېټه د هرنډن په ښار کې چې د ورجينيا د ايالت په شمال ختيزه خوا کې پروت دئ سرته رسول سوېده. د ملي تاريخ د فلسفې او پښتونولى اثر لومړى ځل په ۱۹۹۵ کال په جرمني کې د سپين غر د کتاب چاپولو د ټولني لخواه د ښاغلي امام الدين ساپي په مادي لګښت نشر سوئ دئ. زموږ مرکه په دې ډول شروع سوه:

ـ سلام وعليکم حداد صاحب!

ـ سلام وعليکم پښتون صاحب!

ـ حداد صاحب، د ژبو د څېړني د مرکز په نمايندګي ستاسو څخه ډېره مننه کوم چه د ملي تاريخ د فلسفې او پښتونولى په اړه مرکې ته مو، زموږ دا غوښتنه ومنله. دا مرکه به نه يوازې د لوستونکو د پښتو ژبې د زده کولو په برخه کې مرسته وکړي، بلکه پښتني کلتور او د پښتنو هغه ځانګړې خصوصيتونه چه د ملي تاريخ د فلسفې او پښتونولى بنسټ بلل کيږي، نورو نړيوالو ته به ور وپيژني. زه به اوس ستاسي څخه دا پوښتنه وکړم ، چه څه وجه او سبب ددې اثر و ليکلو ته اړکړي ياست؟

ـ مهرباني، زه هغه وخت کې څې يعني د پنځلسو کلو وم ، دې ما يوه " نيا" څه د پکتيا وه، دا را سره اوسيدله. نو په حقيقت کې دا هم بيکاره وه زه هم، نو دوي به هميشه ماته خبري کولې او هغه مشران څه په پکتيا کې تير سوي وو او کوم ددوي خبري وې، حرکتونه وو دا به دې قصې راته کولې او اصولو به يې را ته بيانول، څه دې مونګ په پختنو کې دا رواج دئ يا دا دستور دئ يا دا اصول دي. خو، ما دا خبري په دقت واوريدلې، څو موده وروسته زه دې ته متوجه سوم څې پختانه په پختونولي باندې يعني هميشه خاد دي يعني دوي بې دولته هميشه يو دولت لري او دا دولت د همهغه قوانينو له مخې چه دوي يې لري يا، او زه هغه ته قانون وايم، دوي به تمام مسايل فيصله کول، دا که جنايي وو که مثلاً نور اجتماعي و غيراجتماعي مسايل وه، دوي به هغه خپل اصولو ته کتل او د هغه له مخه به يې فيصله کوله. که مثلاً د جنګ وخت وو يا عادي وخت وو، يعني ددوي، ددوي دا سيمه دا د امن سيمه وه او دلته خپل و پردي هرڅوک به آرامه وه، هر چا خپل مسووليت درلوده او هيچا به په هيچا باندې تجاوز نسو کولاي او د هرچا هغه حق او حقوق و حدود معلوم وه. نو په دې صورتو کې ما داسې فکر وکئ څه دا خو يو، يو خه، يو خه لاره ده ددې دپاره څه يعني يو جامعه بدون د دولت و بدون ډېر عسکرو، ډېر پوليسو ، ډېرو خبرو نه فقط په سپين ميدان خپل مسايل فيصله کې او هر څه معلوم وي. او په پختونولي کې مثلاً د دروغو مسله نه وه او هر چا هر څه څې کړي وي او هر څه يې غوښتل نو مجبور وو چه هغه پټ نه کې او جرګې ته يې وواييي او مشرانو ته يې وواييي او له هغو نه مثلاً يا خپل معذرت وړاندې کې. نو هغه جرګې به ددوي په مسايلو باندې غور کاوه که چيرې ده ته د يو تکليف يا مريضي يا يو معذرت يا داسې وو څه لاس او پخې به يې نه وي يا به ړوند وو ، يا داسې مسايل به يې هم په نظر کې نيول او له دوي سره ډېر رعايتونه کيدل، هغه خپل د هر چا حقوق به تامينيدل. نو ما په دې مورد کې وروسته له يو بل افغان شخصيت سره څه هغه وزير محمد ګل خان مومند نوميده، له ده سره بلد سوم، دې هم په هغه سيمه کې اوسيده څه زه اوسيدم، هغه د کابل ګذرګاه وه. نو د ده حضور ته به زه هميشه ورتلم او دده خبري به مې اوريدلې. په دې کې ده هم ځيني مسايل بيان کړل څه ما د خپلې نيا نه نوه اوريدلي. ځکه څه دې پوه سړي وو او هغه مسايلو زه متوجه کړمه څه بايد په دې کې نورې څېړنه وشي او که وسې دا زه وليکمه. نو په دې صورت کې همدغه مسايل وو څه زې يعني دې ته واداره کړمه ، څه، څه زه په دې باندې بايد يو اثر وليکم. که دا اثر ناقص او نيمګړي وي په هغه صورت کې به نور پختانه ځوانان وهڅيګي څه دا تکميل کې، او په دې يو ښه اثر وليکي او بالاخره موګ دا پختونولي څه د زرهاوو کالو راهيسي موګ چلولې يو او دا په آينده کې هم وي. اوس هم د پختنو په سيمه کې څه هلته نه د پاکستان قانون چليګي او نه د افغانستان، هلته به دغه پختونولي ده څه حکومت کيي او همدغه علت وو څه ما دا اثر د ليکلو دپاره هڅه وکړله.

ـ مننه! ددې اثر په يودېرشم مخ كي تاسي ليكلي دي چه: "پښتونولي يوه لاره ده، كه پښتانه پښتونولي خپله كړي، بلې نظريې او ايډيالوجۍ ته ضرورت نه پاته كيږي." په دې برخه كې كه څه نوره روښنايي وغوړوئ، ښه به وي.

ـ هو! همدغه خبره ده ، څه دې ما د مخكني خبرو سره يو ارتباط لري. په پختونولي كې مسايل داسې مطرح سوي دي څه يعني له هغه جمله نه مثلاً كه سړي سيالي را واخلي او له هغه نه مثلاً د، د خيگڼې مسئله يا نور مسايل را واخلي هغه په حقيقت كې نه ديموكراسي ته حاجت سته او نه سوسياليستي او نورو طريقو ته. او ددې يو علت دا وو څه ، ددې يو مثال داده څه د سيستان په تاريخ كې راغلي دي څه كله مسلمانان راغلل د مونگ خاورې ته، نو دوي وويل څه موگ يو پيغام لرو. هغه سپين گرو ورته وويل څه خه دئ تاسو خپل پيغام ووايۍ، مونگ به فكر په وكوو. هغو ورته ويلو څه د موگ پيغام داده څه تاسې بايد دروغ ونه وايۍ، دوي ورته وويل څه قطعاً دروغ په موگ كې نشته. او دوي ورته وويلې څه د چا مال به نه خورئ، وايي هغه خو حرام دئ مونگ يې نه خورو، دا كار موگ نه كوو. او بالاخره دا خبره راله ځې ناحقه خون بايد ونسي، وايي مونگ يې نه كوو. د، د پاک لمنۍ خبره راغله، ويل هغه سته په مونگ كې. خو دا څه ځې دوي په حيث دې دين د اسلام بيان كه، هغوي ورته وويل څه دغه خيگڼې دې موگ په روشونو كې موجود دي او موگ دغه څه ځې تاسې وايئ، تاسې به اوس په دې پوه سوي يئ او دې موگ دا جامعه له ډېرو كلو نه په همدغه اصولو چليگي. دې موگ په جامعه كې څه كوم دې موگ ټولنه ده هلته نه غلا سته، نه دروغ سته، نه بدلمني سته، او داسې مسايل دې موگ كې نسته. او كه چيرې كوم مسئله غلطه پيخه سې، داسې معلوميږي څه هغه كه تحقيق وسي هغه به له بل ځايه نه راغلي وي، كه وي كوم سړي هغه به څه د موگ په اصولو باندې نه پوهيده څه دلته څه كوالاي سي او څه نسي كوالاي. نو دلته يو مثال وركوي، يو مثال وركوي د رستم او گرشاسب. دا يو راغلئ دا بل سره ميلمه سوئ ده. خو د شپې ځې دوي خپل مجلس كړيده، نو وروسته دې ، دې رستم ويلې دې ځې كه دلته شبستان موجود وي، شبستان هلته څه د ځځو ساتيري وي پكي، دلته گرشاسب ورته وايي ځې دا سيستان ده ، تاسو دا، دلته ساک اوسيگي ، ساكزي اوسيگي، دلته دا خبري نسته او دا هماغسي يو، يو، يو بيباكه سړي غواړي څه له سر ومال وژوند هرڅه تير سي او دغه خبره دلته دې موگ په خاوره كې وكوي يا دې موگ په ځاي كې وكوي ،د، دا هغه ملک نه دئ ځې تا فكر كړي دئ ، دا بل ځاي دئ. نو په دې صورتونو كې يعني دوي د اسلام سره ، څه هغه اخلاقي موضوعات د اسلام وه يا اجتماعي، هغه دوي ته يې اطمينان وركه څه يعني دا په موگ كې وجود نه لري. نو همدغه ، همدغه دئ څه دا مسئله د پختونولي، اداره او د مفكورې دپاره او د تمام مسايل په دې كې په نظر كې نيول سوي دي ، څه يو خوار و غريب و نادار سره څه وسي، يو سړي كه مثلاً لاس و پخې نه لري هغو سره څه وسي د يو څوک ځې راغلي وي گاونډ، له هغه سره څه وشي. او همدا رقم مثلاً اجتماعي كارونه لكه لارې و كاروان سرايونه او دغسي د بندونو يا د نهرونو ايستل، دا ټول د پختونولۍ په قوانينو كې بدون ددې ځې مثلاً كوم قوت ترې يا يو تر شا يې مثلاً داسې يو زور موجود وي دا دې جامعې په، په د، د مصالحو دپاره يعني دا خلكو په خپله خوخه هغه كوله او بيله دې ځې يعني دوي په هغه كې فكر وكي ، دا يې خپله يوه فريضه او وجيبه گڼله، يعني هر پختون فكر كوي چه زه دوه مسووليت لرم ، د ځان مسووليت هم لرم د نورو خلكو مسووليت هم زما سره شته. زه ځې ددې جامعې غړي يم، زه مجبوره يم ځې ددې جامعې تمام منافع په نظر كې ونيسم او د هغه دفاع وكم او هغه وساتم.

ـ تاسو په خپل اثر كي د پښتونولۍ دريو شپيته اصوله په نښه كړي دي.

ـ بلي!

ـ خو اوس كه يوازي د كام او كاموالي، مشر، جرگې، ميلمه او ميلمه پالنې، پگړۍ او ټكري، او د ښيگڼي د اصولو په هكله كه يو څه معلومات لوستونكو ته وركړئ، ډېره مهرباني به مو وي.

ـ نو خه ده ، اول به مثلاً ځې دلته د كام او كاموالۍ خبره ده په دې به خبري وكو ځې كام يا قوم داسې يو معنا نلري ځې دوي به ټول د ويني رابطه لري يا دې خپلوان به يې سره، يا به مثلاً دوي د خپلو هغه ځانگو و ريخو په اساس به خوځيدلي خلک وي. كام هغه خلک دي ځې په يو جامعه كې په يو محدوده د ځمكي كې هلته دوي اوسيگي نو ددوي خيروشر شريک وي. له دې خاطره دې ته كام وايي او كاموالي داده ځې هميشه ځې ته د ځان په فكر كې يې بايد

د قوم په فکر کې هم و اوسيگې. ته داسي کار نسې کوالاي څې هغه ستا د قوم د بدنامي دپاره وي يا هغو ته ضرر ورسيگي يا د هغو ته کوم اقتصادي يا اجتماعي يا حتي د اخلاقو او د شرافت او د نورو خبرو. دا، دا کارونه سړي هميشه دې ته حاضره وي، د قوم دپاره ولاړ وي او د قوم دپاره دوي مثلاً د قوم د آزادئ و ټولو نواميسو د ساتلو دپاره دوي مجبور دي څې هر يو يې يعني څه شي وکي يعني هر يو يې ددې ته مثلاً حاضر وي څې قرباني ورکي. که چيرې په قوم کې يو سړي وايي څې د ما يې پدې خبرو غرض نسته نو په هغه صورت کې قوم دا سړي نه مني، دا سړي (ته) وايې څې ته بايد يا عذر وړاندې کې، ته ناجوړه يې، ته کم روحي تکليف لرې يا کوم بل شي دئ. ته څې په دې قوم کې اوسې بايد هميشه يې گړندي، غختلي او تيار واوسيگې د هر خه او بد دپاره بايد ته حاضر او آماده واوسې، که دا شپه وي که ورځ وي. کله څې په تا باندې غگ وسو ته همهغه دقيقه کې به ته حاضر يې. که دا يو کار وو ته به د خپل کار سامان سره راوزې، که دا جنگ وو ته به له خپل تورې و توپک سره به راوزې. يعني دغه قوم عبارت د هغه خلکو نه دئ چې هغه په يوه سيمه کې يا په يوه محدوده کې دوي اوسيگي، ددوي خيروشر نظر د هغه جغرافيايي حالاتو ته شريک ده. دغه څوک څې دلته اوسيگي دا قوم دئ او همدغه خاطره د قوم افغان په نامه باندې يو اصطلاح راوتلې وه څې، او اوس هم اکثراً استعماليگي . قومې افغان داده څې په دغه محدوده کې څوک اوسيگي دا په خير و شر کې شريک دي. دوي يو له بله تجاوز نسي کولاي او نه د بل چا يعني دپاره دلته مثلاً اوسيداي سي. نو په دې صورتونو کې دغه قوم عبارت د هغو خلکو نه دئ څه په يوه محدوده د جغرافيايي کې اوسيگي او کاموالي هغه ده څې ددوي منافع، د همدغه ټولو خلکو څه په دغه محدوده يا هيواد کې چيرته اوسيگي، وطن کې ، نو ددې ټولو مسايلو سره به دي علاقه مندي لري او دي به قومولي کوي، کامولي به کوي ورسره. او که نه وي نو دي خپل يو مسووليت نسي رفع کولاي، څې نسي رفع کولاي، د هغه دپاره بايد معقول عذر ولري يا د هغه دپاره يو موعظه ورکي. نو په دې صورتونو کې يعني يو سړي له دې مسووليت نه نسي خلاصيداي څې هغه په قوم کې يو معامله وي او دي يو چيرته بيغمه ناست وي، دي مجبور ده څې په هغه کې برخه واخلي.

دلته دوهمه پوختنه د مشر ده، مشر په قوم کې، هغه ټاکل کيږي او دا د خپل د هغو سوابقو له مخي نه څې دي په خپل قوم کې لري او خلک به ده باندې اعتماد کيې. او دده مثلاً صداقت او رختينولي معلومه وي نو په هغه صورت کې يعني قوم راټوليگي او په يوه سړي باندې لاس ايگدي څې دا به دې موگ مشر وي. مشرمجبور دئ څه د خپل قوم نه هميشه باخبره وي، د هغو په خير وشر باندې خبر وي او مشر داسې نسي کولاي څې مثلاً دي بيغمه په کور کې ناست وي. دي بايد د ټول قوم نه يا د ټول ددغې سيمي نه خبر سي څې څوک ناروغه دي، څوک په تکليف دي څوک نه دي، په دې صورت کې د چا نن شپه ډوډۍ وه د چا نه وه او مشر مجبور دئ چې دغه مسايل هغو ته تهيه کې او د هغو غم وخوري او د هغو دپاره مثلاً نور خلکو ته وظيفه ورکوي څې ده سره مرسته وکي او دا په دې وخته کې زهيره سوي دئ يا مثلاً ناروغه دئ يا يو بل مصيبت ورته، مرگ په راغلئ ده داسي مسايل دي. نو دا څوک څې يو مړي يې په کور کې سوي ده دا په خپله دا سړي بيغمه ده، نور دا ټول کار څې دئ د يو مړي دپار کيگي دا قوم ورته کوي او ټول مسايل څې مصرف وي يا مثلاً کار وي د قبر يا نورو خبرو، دا په دې سړي نه دي دا په دې قوم باندې دې څه دا قوم ده ته ډوډۍ هم پخه وي دده ميلمنو ته هم ډوډۍ پخه وي، د خيرات مسئله هم په نظر کې نيسي. نو په هغه صورت کې دا سړي بيغمه دئ او دي کولاي سي څې هغه خپل غم په خپل ځان سره وخوري او هغه خپل وير وکيې، نو دي بلې خوا ته، دي متوجه نه ده او له، ځکه، دده تر شا قوم ولاړ دئ او قوم يو مشر لري او دغه قوم يو قوانين لري، يو حساب لري، دي ځان يوازې نه احساسوي او يوازې نه دئ. نو په دې صورتونو کې د مشر دا وظيفه ده څې دغه، دغه قوم فعال وساتي. قوم په خپلو وظايفو کې فعال بايدوي، دوي په خپلو مسووليتونو بايد پوه سي او خپل مسووليتونه تر سره کې او دا مشر او د نورو د جرگو غړو او نور هغه خلک څې په قوم کې يو وظيفه لري د هغو دا وظيفه ده څې مثلاً دده تمام مسايل په نظر کې ونيسي. او که په يو کور کې په يو ځاي کې يو تکليف پيښ سي په دې کې مشر بايد خبر وي، او که مشر خبر نه وي دې ته يو بې خبره مشر وايي. او دي، دده هغه اعتبار په قوم کې راټيټيگي. خو مشر دا کار نه کوي، مشر تر هغه وخته پورې نه ويده کيگي، څوڅې د خپل څلور خوا د قوم له احواله، د خير او خيريت مسئله ده ته ونه رسيگي، او د سبا دپاره يو سلسله هدايتونه ورنه وي ورکړي، تر هغو پورې مشر نه بيده کيگي. او سبا د وخته هم بايد له ټولو نه تر مخه بايد مشر راويخ وي. دا نه ده چې سبا د وخته مشر ته لاړې او مشر به ويده يې دا امکان نه لري. او يا مثلاً مشر په دې هم نه خپه کيگي چې نيمې شپې د يو حادثې په، نه خبر سي او دا خبر کې او راويخ يې کې، مشر دا، دا نه لري، په نيمه شپه کې دي را ويخولاي سي او هغه مسئله ور ته وايي ، څې هغه په دې شرط څې ضروره مسئله وي او يعني که تر سبا پاته سي هغه خرابيگي يا نور، يا نور زيانونه و تاوانونه پيښيگي. نو له دې خاطره مشر يو وړ سړي وي ، وړ په دې مانا څې دي فعال وي، دي نور هم په فعاليت، نور خلک هم په فعاليت واچوي او قوم دې ته متوجه کې څې تاسي خپل مسووليتونه بايد اجرا کئ او که تاسي خپل مسووليتونه نه اجرا کوئ نو زه دلته مسووليت لرم څې په تاسو باندې غگ وکم او تاسي هغه خپل مسووليتونه اجرا کئ. (دوهمه برخه) همدغه رقم د جرگې مسئله څې ده څې هغه البته دوي

وويې به ، دا خبره باید وشي څې جرګه یعني مشر ټاکي. یعني د جرګې خبره مخکې تردې ده څې د مشر مسئله راسي. همهغه وخت کې څې مشر ټاکل کیګي، نو دا جرګه دده هغه خصوصیات معرفي کوي څې دغه خصوصیات په ده کې موجود دي. د صداقت، د دروغ نه ویلو او د خې فیصلې او د چټک قضاوت او دا ټوله خبري یعني دي کولاي سي څې تر سره کي، هلته نو خلک په ده باندې لاس کیدي او وایي څې ته د موګ مشر یې او موګ تا سره ولاړ یو، او په خیر و شر کې شریک یو او دا کار به کوو. که چیري د مشر او د جرګې خبرې ته موګ لاړ سو په تاریخ کې، یعني ځني تاریخونه دي څې ډېر معتبره دي او په هغه تاریخو کې مثلاً یو یې د هیرودت تاریخ دئ دا څې تواریخ ورته وایي به جمع حسابیګي. نو هلته د جرګې او د مشر دواړه خبره راغلې ده. او دغه مسئله څې نن هغه ته دیموکراسي وایي مونګه په دې عقیده نه یو، خو دیموکراسي به کوم لغات وي څې د خلکو حکومت یا داسي به یي. اما په پختونولي کې چې ده هغه دغه دیموکراسي یوه برخه د پښتونولي ده. مثلاً هیرودت وایي څې د ساکو پاچا یعني څې "ایدانت سورس" نومیده دا په جنګ یې کړئ وو د پارس له خلکو سره، څې هغه هخامنشیان وه ، مګر کله څې کوروش ددوي وخوا ته راغئ او غوختل یې څې حمله وکوي، نو په دې کې دغه د ساکو مشر څې ساک د افغانانو یو قوم دئ له پښتنو، څې اوس هم په افغانستان کې ددوي ځمکي هم ددوي په نامه دي مثلاً ساک ور ته وایي او دغه خلک هم ساک نومیګي یعني ددوي جرګه وسوه او پدې جرګه کې اته، د اته قومونو مشران راوغوختل او دا سره یې هغه لویه جرګه جوړه کړله. پدې کې درې قومونو ده ته ویل څې ته موګ ته ملامت یې، پدې څې تا په پاس باندې حمله کړیده. ته که نن غواړې له مونګ نه مشوره واخلې نو تا باید په اول کې هم مونګ سره مشوره کړې وه، موګ سره دي مشوره کړې واي څې زه دا کار وکم که نه کوم، که مونګ درته ویلي واي څې وکوه خو تا به کړئ وو، که مو ویل مه یې کوه البته دلایل به مو درته ویلي وو. نو دغه د اوسني دیموکراسي څې خلک ورته وایي دا یو بهترینه نمونه ده څې هلته په جرګه کې یو تعداد خلک جګ سول او دا خپل پاچا او دا خپل مشر، دا یې ملامت که . څې تا یو تعداد یو، یو څه کارونه په خپل سر کړي دي او ددې حق تا نه درلوده او له دې خاطره هغه سړي مجبور سو، څې هلته یو بله رویه اختیار کې څې البته هغه بیا د تاریخ موضوع ده. §مګر خبره داده څې دغه جرګه دلته وشوه§ او دا خبره څې مثلاً دوه نیم زره کاله مخکې هیرودت لیکلې ده او دا څې څومره نور مخ کې وه پدې خداي پوهیګي. خو اقلاً موګ څې فکر کوو او یا مطالعه کوو دا مسایل ته ګورو دا د جرګې موضوع او د مشر موضوع دا خبرې نو یا په عمومي صورت سره پختونولي، دا درې زره، درې نیم زره کاله یا له دې نه وړاندې هم یعني امکان لري څې دا موجود وي، مګر ددې دومره سابقه موجوده ده څې دا په تواریخو کې راغلې ده. تواریخ دوه معنا لري، یو د مختلف تاریخونه معنا لري. یو دا معنا لري څې دا د هیرودت کتاب هم په جمع ویل کیګي، تاریخ نه ویل کیګي تواریخ ویل کیګیي، یا تاریخونه ویل کیګي، نو په هغه کې راغلې دي. او همدا رقم نور آثار هم شته څې دا خیي څې یعني پختانه د، د یوه نظام خاوند وو او دغه نظام عبارت وو د، د څه شي نه ، د یوه قانون نه څې په دوي خلکو کې عملي کیده. په طور د مثال، یو بل مثال هم هیرودت ورکړئ ده، غیر له دې نه څې هغه د ماد یو قوم چې ډېر تیت و پرک وو او وضعه یې ښه نه وه او دا خبره درې زره کاله مخکې له میلاده هم دا خبره شوې ده چې هلته دا قوم کې یعني بې نظمي وه ، غرغدوي وو، دروغ وه، دا مسایل وو نو دوي یو مشر وټاکه، او مشر وټاکه څې د هغه نوم "دیااکو" ده. خو دا یو یوناني تلفظ دئ، خو اما د "اکو" خبره نن هم، په قندهار کې یو مشر سړي ته "اکو" وایي او دا نوم تر اوسه پوري، تر دغه ساعته پوري دا چلیګي. نو او ددغه دیاني یو قوم دئ مثلاً دلته اوس هم پدې نامه یادیګي. دغه "دیااکو" دومره فعالیت وکاوه څې بالاخره دده فعالیتونه د "ماد" د امپراطوري سبب شو او لوئ امپراطوري دوي جوړه کړله او دا دده همدغه قوانین وو څې په خپل قوم یې عملي کړل او هغو ته یې مثلاً د هر شي لاره وخودله چې په دې کې په دا کیګي ، او په دې کې په دا کیګي او خلکو یعني یوار څې ده استعفا کړې وه ، ویل څې زه نور کار نه کوم. خلک ورغلل څې دې مونګ انتظام بې له تانه نه کیګې او ته دې موګ مشر یې او دغه جرګه فیصله کیي څې ته به دې موګ مشري کوې او مونګ به ستا پیروان یو، ستا په لاره به روان یو . نو پدې صورت سره هغه یوه ډېره لویه امپراطوري د "مادو" جوړه کړله څې هغه په نورو حوادثو کې له منځه لاړه. خو همدا مسئله داده څې دوه مسئلې دي، څې یو د جرګې مسئله ده او بل د جرګه لو وظیفه څې لري هغه دا ده څې دا باید مشر وټاکي. که له دې خبرې تیر شو او راشو دې بلې خبرې ته څې د میلمه او میلمه پالني خبره وي. میلمه یو ، یو، یو موجود دئ څې یعني داسي ځاي ته لاړ سي څې هغه دده اصلي ځاي نه یي ، اصلي ځاي نه. دې پښتنو کې یعني خبره داده څې یعني یو پردي سړي څې یو په، په مجرده څې د پښتنو په سیمو کې پخه کیدي دا د میلمه په نامه یادیګي. میلمه باید دا وي صاحب، څې دي به وایي څې زه دلته یو څو موده یم، یو موده تعین سي چې زه میلمه یم. یو دادي څې یو سړي فقط تیریګي له دې سیمې نه، هغه ته البته مسافر وایي، مګر ددې دواړه په مقابل کې پختانه مسوولیت لري، میلمه به ساتي په میلمستون کې، چیرته څې دوي د میلمه دپاره هغه تعین کړي وي او دا میلمه هم انفرادي نه یي. کله څې میلمه یو کلي ته لاړسي، یو ځاي ته لاړ سي ددې خبره داده څې دا ټول کلي به ددې میلمانه په هرکلي کې، په ډوډۍ ورکولو کې دا به دوي ټول برخه اخلي. بیا یې هم یوه سړي ته نه پریدي، دا هم اجتماعي ده، څې دا مهمانخانه ده دا میلمه ستون، اوهلته میلمه ناست وي او له هره کوره یو شي ورځي، څې ددې میلمه او

هغه کسان څه له میلمانه سره ناست وي، او خبري کوي او د هغه عزت کوي، نو ددې ټولو یعني ته د چایو، ډوډیو یا هرڅه ځې وي، دا انتظام په قوم باندې ده، قوم دا کار کوي. ځې همهغه هر څوک ځې کورته ځي پوښتنه کوي ځې تاسي وګورئ ځې په ډیره کې ځوک سته که نسته. یعني میلمه شته که نشته. که میلمه وي دوي وظیفه لري ځې د میلمه له، له، له آرامي نه ، له روغوالي نه، ناروغوالي نه او ډوډی نه او نورڅه تکلیف وي، باید ځان باخبره کې. او بعد له هغه نه مثلاً ځې پوه سي ځې مثلاً میلمه آرامه دئ او دده هرشي برابر سوي دئ نو بیا دوي خپلو کورو ته ځي او راځي مګر یو وارې میلمه ته هم سترې مسي وایي، یعني هر سړي ځې دا میلمه نه خبر سي، دا د ځان وظیفه بولي ځې باید زه ورسم ده ته یو سترې مسې، خه راغلاست وایمه، خه راغلاست وایم، بعد له هغه نه ځې هغه ته یعني خه راغلاست وایي، نو بعد له هغه نه ، نه ګوري ځې دده نور انتظام دې ډوډی ددې شیانو صحیح دئ، یا دې هم باید له خپله کوره یو څه ور ولیګي او په خپله یې بیرته ورته راوړي، خو دا میلمه ډېر آرامه و ډېر په عزت او بیله دې ځې په هغه ځاي کې ځې میلمه شپه تیروي، هغه ماحول پاک و ستره و هغه ماحول کې غګ و او ناآرامي نه یي. او هلته د میلمه د اذیت دپاره هیڅ یو کار نه کیګي ځې یو مثلاً ماشومان ورسي هلته لوبي وکي، یا هلته بې دې میلمه له خوخې نه ساز و سرود اوسي. نو دا میلمه ډېر په عزت دلته ناست وي او هغه کله ځې کار تمام سي صاحب، هغه خداي په اماني وکي خپل مننه وکي له خلکو نه، خلک هغه سره یعني آخري خداي په اماني وکي او دا پوختنه هم ترې کوي ځې ته د، دا کومې پیسې لرې، ځې لاره کې بې پیسې نه سي یا تر هغه ځایه ورسیګې یا کرایه یا ښه و بد. د ټولو نه دا مطمینه سي نو میلمه له دې جایه رخصتیګي او د خپل له سیمې یې نه، صحیح و سلامت رصخت یي. او یا یو څوک ورسره ځي یا ددوي خلک معلوم دي که هلته ورسیدې نو بیا ته هغه سړي ته ورسه او هغه به تا بیا وساتي یا هغه کلي ته ورسه، تا به ، ته به وساتله سې او دې تا ټول کارونه به هلته وسي. نو په دغه سویه میلمه پالنه په دنیا کې څوک نشي کولاي ځې یو میلمه هلته لاړ سي اوفرض یې کې ، دې مطمینه وي ځې دې ما حفاظت کیګي، دې ما ډوډی راکول کیګي او هر څه به زما په اختیار کې وي. نو دا ددوي میلمه پالنه په ، یعني په دنیا کې اوس هم مشهوره ده او دا خلک په، ځني خلک ځې په دې اموخته نه دي، فکر کوي ځې دا ولي دا خلک داسې کوي او بیخي ورته عجیب خکاریګي. مګر هغه خلک ځې په دې سره بلدوي اموخته وي هغه پوهیګي ځې مثلاً میلمه سته سړي عزت ورکوي، مګر میلمه داسې فکر و نه کړي ځې دا عزت په څه خاطر دئ؟ هغه صرف له دې خاطره ځې دې میلمه ده، دده په سیمه کې ده، دده په کلي کې دئ، ددوي په ډیره کې ناست دئ، نو لهذا دا میلمه دئ باید داسې پوه شي. او که چیري دا میلمه دومره نابلده وي ځې نه پوهیګي بیا دوي ورته وایي ځې دې مونګ دا اصول دي، ته دلته ځې یې د موګ په محیط کې یا دې موګ په سیمه کې دې تا حفاظت پکار ده، و تاته ډوډی ورکول پکار دي، نو ته به ددغه خلکو د اصولو په اساس به ته اوسیګې اودې تا پالنه به کیګي او دې تا یعني خدمت به کیګي.

او راغلو دې موضوع ته ځې د پګړی او ټکري خبره ده. په پختونولي کې یعني هغه حیثیت ځې نارینه لري، همهغه حیثیت ځځه هم لري.مثلاً که نارینه په خپل پګړی و لونګی او شملې باندې نازیګي، ځځه هم په خپل ټکري نازیګي. ځځي ته د خپل د ټکري حیثیت زیات دئ او خلکو ته هم د ځځي ټکري ډېر اهمیت لري. او هم دغسې دې نارینه پګړی. یعني پګړی ځې نارینه تړي، دې فکر کوي ځې د پګړی له تړلو سره ده ټول مسوولیتونه په سر واخیستل. او کله ځې ځځه یا میرمن ټکري په سر کې، نو دا فکر کوي ځې ټول مسوولیتونه پدې ټکري کې دي او دا ده په واخیستل او قبول یې کړل، قبول یې کړل او دا ټکري ساتل او د پګړی ساتل دواړه دا یو سلسله مسولیتونه دي ځې دوي په سر اخلي، ولوکه یو غریبه ځځه یې یو غریب سړي وي، خو د پګړی او د ټکري ساتل دوي ته اهمیت لري . په ټکري کې د عزت خبره ده، په پګړی کې د غیرت خبره ده، په ټکري کې د زړه سواندې خبره ده او په هغه کې مثلاً د، په پګړي کې د سخاوت، د سخاوت او د جوادې خبره ده. نو دا، دا دواړه یو له بله سره مساوي دي یعني هغومره ځې نارینه کوم اهمیت لري، هغومره ځځه لري، ځکه ځې نارینه پګړی په سر کیده، ځځي هم ټکري یې په سر کړئ ده، نو له دې خاطره دا د پختنو په حصه کې دا څوک نسي ویلاي ځې یعني د ځځي اهمیت کم دئ. د ځځي اهمیت ډېر زیات دئ، پدې ځې ددې ټکري د نارینه له پګړی سره برابر دئ او که چیري ځځه یو ، په یوه معامله کې هغه چا ته ټکري ونیسي، یا دې ته پلو ورته وایي، یا د ټکري ځنډه ، نو په هغه کې یعني د دوي یعني مړي بخل کیګي، ډېر سخت جرمونه بخل کیګي.

ځې یوه پختنه ځځه، د آب او د عزت ځځه، دا دې ما کورته راغله، ما یې نه دا وغوختل زه باید هغه ومنمه، او زه هم باید دې ته ټکري ورکم، زه هم ټکري ورکم، ځکه دغه ځځه اول وار ما کورته راغلې ده، یو څه هغه خو ورکوم، مګر بیا یې هم سرلوځې نه باسم، بیا هم ټکري ورکومه. ځې یعني، یعني، یعني دا به شرم وي ځې ټکري یې ور نه که، وایي ټکري ورکي. نو دا د پختونولي اصولو کې یو خه اصول دي او حتي یو وخت کې ځې افغانانو په ایران کې ورځ بده سوله او نادر افشار غالب سو، نو هلته زخمیان و بندیان وه. دا "بي بي زینبه" ځې یو بي بي ځځه وه او د میرویس بابا لور وه، دا نادر افشار ته یې پلو ونیوه. نادر افشار پدې قصه نه پوهیده، نو پوختنه یې وکړه ځې دا څه شي دي؟ وایي دا په دې کې یو څه شي غواړ.، وایي چه شي غواړي، وایي دغه خپل زخمیان غواړي و بندیان غواړي. وایي که یې ور نکم، بیا څه کیګي؟ وا یې، که یې ور نه کې، بیا ټول قوم ددې ځځي ترشا ولاړ دئ.

خامخا تا دا نه دي منلي، تا سره به دغومره یعني جنګ کیږي، او دغومره به تا مثلاً تعقیبوي، څو تا له پخو وغورځوي، له پخو وغورځوي، او دا مسئله آسانه مسئله نده ځي ته دا پلو تش بیرته ولیګي، دې پلو کې به څه ورکیږي ته ، همهغه ځې غواړي. مثلاً همهغه به ورکوې ته. بیا هم هغه وو ځې نادر افشار یو څه بندیان او زخمیان ورکړل ځې دا دې په پلو کې، یا په ټکري کې، یعني دا پلو او ټکري یو جاي دي سره مثلاً د ټکري یو څنډه ځې ونیسې هغه پلو شي.

او بلي موضوع ته ځې تاسي پوختنه کړیده ، د خیګنې ده. خیګنې یو عجبه کلمه ده، په خیګنه کې د پختونولي د نظره دا دي ځې یو سړي همیشه باید مفید وي، ګټور وي. او که یو سړي مفید نه وي وایي دا له خې وتلي دئ. دا سړي له خې وتلي ده خه نسي کولاي. مګر د خې وتلو دا نه ده ځې مقصد ځان خلاص کې، باید هغه معذرت یې معلوم وي ځې په کوم معذرت دي له خې وتلي ده او نور مسوولیت نسي اخستي، او نوره سیالي نسي کولاي او نور دي په جامعه کې ځان داسي یو عضو نه بولي ځې دي یو مسوولیتونه دي، هغه دې د جامعې په مقابل کې ادا کې، او د قوم په مقابل کې دا خپل یعني، یعني خیګنه ځې عبارت د خه، د خه رسولو ده، یعني دې تا څوک ځې، څوک ځې ځان ته یو پختون وایي هغه باید خیګنه ولري. خیګنه یې داده صاحب، ځې دغه سړي ځې ځان ته پختون، نو ځې ځان ته پختون وایي ، دي باید د مفیدیت اثبات ورکي. مثلاً زه یو باغ لرم، ماشومان کولاي سي ځې له دې باغه میوه واخلي او دا حق لري ځې وا یخلي، او زه باید په دې کې هیڅ یعني صرفه پدې ونه کمه، ځې دا د کلي ماشومان رانسي او د قوم ماشومان رانسي او هغه یوه منه یا یو میوه وینسي. یا مثلاً داده ځې مثلاً یو سړي کومک ته ضرورت لري خپل بار وړاي نسي یا وړوکي دئ یا سپین ږیري، نو دا سړي باید فوراً د هغه سره کومک وکي. او دا داسې اخلاقي کومک نه ده، دده وظیفه ده ځې دا کار باید وکي. که نه وایي ځې زه هلته داسي په عذاب وم، هغه سړي ځې وو، هغه ما سره کمک ونه که. نو هغه خلک ورته وایي ځې ته له خې نه وتلي یې، نو یو خیګنه خو باید تا کې وي او که د خې نه ووزې، خو باید ته یو معذرت ولرې ځې یا دې لاس مات وي یا دې پخه مات وي او یا مثلاً یو بل مشکل وي. نو د پختنې جامعه یوه مسووله جامعه ده او پدې جامعه کې هرڅه دقیق دي او پدې جامعه کې هر څه حسابي دي او مونګه په دې کوشش کې یو ځې مونګ د خپلو پلرو، نیکو او د شپګ ، اوه زره کاله دغه کوم اصول ځې دي، یعني دا مونګ ژوندي وساتو او ددې په باب کې توضیحات ورکو او دا خلک ځې موګ له چا نه زده کړې دي باید موګ هغه نورو ته ور زده کو، او دا دې د پښتنو اصول دي ځې وایو. کوم شي ځې ما له خپل پلار و نیکه اوریدلي دي، یا نیا نه، ځې ما له خپل نیا نه اوریدلي دي، نو زه مکلفیت لرم ځې دغه مسایل خپل اولاد ته ووایم او اولاد مي وظیفه لري ځې خپل اولاد ته ووایي. نو پدې صورت سره باید پختونولي دایم ژوندی وي او پدې کې د خیګنې مسله او دا ټول مسایل یعني هر نوم ځې یو چاته ورکوئ یعني نارینه، دا یو نوم دئ، نارینه پګړی په سر کوي دا نارینه مسوولیتونه لري او که وایي ځځه، ځځه هم مسوولیتونه لري. نو دې ته بیا هم وایي نارینتوب او ځځولي. او یو مثلاً دا به پیغور وي په پختنو کې ځې ته ځځه نه یې، هغه به د ځان دفاع وکي ځې زه ولي ځځه نه یم، زه ځځه یم، ما خپل اولاد خه نه دي روزلئ، ما مثلاً دوي ته یعني هغې خې خبري، خې لاري نه دي خودلي. دا ټول مسایل ، ما خپل عفت نه دئ ساتلي، خو دا په خپل ذات کې دا ډېره بده خبره ده چې تاسي یو ځځي ته ووایئ ځې ته ځځه نه یې، هغه به ثابتوي ځې دا به ځځه یې او خپل مسوولیتونه به اجرا کړي وي. په همدغه صورتونو کې یعني هر سړي او هر نارینه او هره ځځه او هر نارینه یعني دا نه دي ځې هغه د جنس له خاطره یا نارینه وي یا ځځه وي، هغه مسوولیت لري. هغه دا نه ده ځې مثلاً د هغه جنسیت یا بیولوژیکي وضع ځځه یا نارینه وي. ځځه او نارینه کیدل په پختنو کې آسانه کار نه دئ هغه به مسولیتونه خپل اجرا کوي بیا به دا نوم په ځان باندې ایګدي، ځې زه یا ځځه یم یا نارینه یمه. اوس مثلاً دغه اصول سړي له غرب سره مقایسه کي. دا خو ډېر فرق لري مونګه له دې خاطره وایو ځې مونګه پختانه هیڅ روش او هیڅ رویې ته احتیاج نه لرو. هره رویه ځې وي او هغه که خه بلل کیګي هغه به زموګ په پختونولي کې موجود وي که دا دیموکراسي وي که دا مثلاً نور اجتماعي مسایل وي دا ټول په پختونولي کې موجود دي او دا سره راوړل شوي دي. نو همدا خاطر دئ صاحب ځې یعني پختون چې ځان ته وایي که دغه صفات ونلري بیا به په دې نه پختون کیګي ځې دده خټه یا نژاد پختون دئ هغه باید دا صفات ولري. له دې خاطره پختونولي ډېر مفید شي دئ او څوک ځې پختونولي ته دریګي او ځان ته پختون وایي او پختونولي کوي، نو دغه سړي مکمل مسوولیت یې په غاړه دئ او دا داسي، او که دا کار ونه کوي دا سړي ته وایي ځې دا سړي له خې وتلي ده، یعني تاسې له جامعې نه طرد کې، ځکه یو، یو بې فایدې سړي ده ، اما که معذرت ولري، معذرت یې ورته رفع کیږي. دا، دا د قوم خبره ده ځې مثلاً قوم کولاي سي د هغه سره کومک وکوي، همدا رقم مثلاً یو، یو سړي خپله ځمکه نسي کرلاي زوړ دئ، خپل کور نشي جوړولاي زوړ دئ یا یو ځځه کونډه ده میړه نلري، دا سوال حل دئ ددوي کارونه ټول په جامعې باندې دي، په ټولنه باندې وي. پختانه څنګه مثلاً یو سړي خپله مځکه کرلاي نه سي، خو دوي ورته کري، او که نه کري نو هغه حساب ورکوي او همدغه رقم مثلاً یوه، یوه، یوه کونډه ځځه یا فرض یې کړئ

يو بوډا سړي يا مثلاً يو معيوب شې هغه لاس يې نه وي، پخې يې نه وي، سترګي يې نه وي، دا ټول د جامعې وظيفه ده شې دغه خپل خلک وساتي.
مونګ په دې اميد يو شې پختونولي يو ورځ يو سرحد ته ورسيګي .

ـ يو ځل بيا ستاسي ځخه مننه او شکريه چې ددې مرکې په ترځ کې مو د ملي تاريخ د فلسفې او پښتونولی د اصولو په اړه ، زموږ لوستونکو ته روښانه او ګټور معلومات ورکړه.